
بسم الله الرحمن الرحیم

# امریکا او په پاکستان کې یې د مزدورانو بدلون



(پښتو شوې بڼه)

**پوښتنه:**

د ۲۰۲۲ کال د اپریل پر ۲۸مه، الجزیرې انګلیسي ویبپاڼې راپور ورکړ چې: «د پاکستان لومړی وزیر شهباز شریف، بلاول بوټو زرداري (د پخوانۍ لومړۍ وزیرې بېنظیر بوټو زوی) د بهرنیو چارو وزیر په توګه وټاکه... بلاول بوټو زرداري د ۳۳ کاله عمر په لرلو سره د نړۍ له ځوانو بهرنیو چارو وزیرانو څخه دی... شریف خپله ۴۱ کسیزه کابینه وروسته له هغه اعلان کړه چې د دې میاشتې په لومړیو کې یې له ګوښه شوي لومړي وزیر عمران خان څخه واک ترلاسه کړ...» شهباز شریف خپل تر ورور نواز شریف وروسته د پاکستان مسلم لیګ (ن) ګوند مشر وټاکل شو. نوموړي د ۲۰۲۲ کال د اپریل پر ۱۹مه، د عمران خان تر ګوښه کېدو یوه اونۍ وروسته لوړه وکړه.

پوښتنه دا ده چې د دې بدلون لامل څه و؟ دې ته په پام سره چې پارلمان په تېر کې د پوځ په ملاتړ عمران خان ته د باور رایه ورکړې وه او هغه یې د لومړي وزیر په توګه ټاکلی و. هغه مهال پوځ دواړو ګوندونو پاکستان مسلم لیګ (ن) او پاکستان پیپل ګوند ته په غوسه و. نو اوس څه وشول؟ ایا امریکا په دې موضوع کې لاس درلود، دې ته په پام سره چې له کلونو راهیسې د پاکستان واک له پوځ سره دی؟

**ځواب:**

د دې لپاره چې دغه پوښتنې ځواب کړو، لاندې ټکي روښانه کوو:

**لومړی: عمران خان څه ډول واک ته ورسېد؟**

۱- پوځ عمران خان ته واک ورکړ. عمران خان یو داسې حکومت اداره کاوه چې د جنرالانو د رول ډېروالي له پلوه کمساری و. د ۲۰۱۸ کال ټاکنو له ګټلو وروسته، پر نوموړي له دې امله نیوکه کېده چې پوځ ته ډېر نږدې دی. دا له هغه وخت راهیسې چې نوموړي د «نوي پاکستان» د جوړولو، فساد او خپل خپلوۍ له منځه وړلو ژمنه وکړه. تر دې وروستیو پورې، عمران خان د حکومت له هغو مشرانو ګڼل کېده چې له پوځ سره ډېرې نږدې اړیکې لري. ان پر نوموړي د پوځ د لاسپوڅي تور پورې کېده.

که له عمران خان سره د پوځ ملاتړ نه وای، نوموړي به د حاکمیت لپاره د باور رایه نه وای ترلاسه کړې! نوموړي په ۱۹۹۶ کال کې د تحریک انصاف ګوند جوړ کړ. د ۱۹۹۷ په عمومي ټاکنو کې عمران خان په قامي اسمبلۍ (ملي شورا) کې ان د یوې څوکۍ په لاسته راوړلو هم بریالی نه شو. په ۲۰۱۳ کې د پاکستان د پوځ د ملاتړ له امله، د نوموړي ګوند په پاکستاني سیاست کې خپل اغېز جوت کړ. په همدغه کال د نوموړي ګوند په قامي اسمبلۍ کې ۳۰ څوکۍ ترلاسه کړې. د پاکستان مسلم لیګ نواز او پاکستان پیپل له ګوندونو وروسته د نوموړي ګوند درېیم مخالف ګوند شو. وروسته له هغه چې د پوځ لوی درستیز قمر باجوه عمران خان ته په ټاکنو کې د درېدو اجازه ورکړه، د ۲۰۱۸ کال په ټاکنو کې یې عمران خان ته چانس ورکړ.

۲- پوځ او استخباراتو د تورن جنرال فیض حمید تر مشرۍ لاندې نه ستړي کېدونکې هڅې وکړې چې د عمران خان سیاسي تصویر سم وښيي. پاکستانۍ څارګرې ادارې (ISI) د ټول هېواد په کچه غونډې جوړې کړې چې نوموړی ګټوونکي نوماند په ګوته کړي. په داسې حال کې چې رسنیو د پاکستان د مسلم لیګ (ن) ګوند مثبته څېره خلکو ته ښودله، امنیتي ځواکونو پر مسلم لیګ (ن) ګوند برید وکړ، د هغوی پلویان یې ونیول او د هغوی کارکوونکي یې وځورول. پوځ د پردې تر شا د مسلم لیګ (ن) ګوند نوماندان ټاکنو ته له درېدو څخه منعه کړل...

۳- که څه هم د عمران ګوند په ملي شورا کې ۱۴۹ څوکۍ ترلاسه کړې، خو د حکومت جوړولو لپاره ۱۷۲ څوکیو ته اړتیا وه. نوموړی د پوځ په ملاتړ وتوانید چې ایتلافي حکومت جوړ کړي. پاکستاني پوځ ایتلافي حکومت د دې لپاره جوړ کړ چې، که چېرې عمران خان د پوځ د ارادې خلاف ګام پورته کوي، نو په اسانۍ سره یې له واک څخه ګوښه کولی شي. استخبارات د عمران خان له حکومت سره د پاکستان پیپل ګوند غړو په یوځای کولو کې بریالي شول. له همدې امله، د عمران خان د ټیم ۱۷ غړي د پاکستانۍ څارګرې ادارې (ISI) کسان وټاکل شول. یوازې درې کسه د پاکستان تحریک انصاف ګوند داسې غړي وو چې مخکې د بل ګوند غړي نه وو پاتې شوي!

**دوهم: عمران خان د خپل واک په موده کې امریکا ته ګڼ خدمتونه وکړل.**

۱- پاکستاني جیونیوز تلویزیوني چینل د عمران په تړاو خبر ورکړ چې، نوموړي د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر پر درېیمه، د ډونالډ ټرمپ له لوري یو لیک ترلاسه کړ چې پکې د افغان سولې خبرو او مېز ته د طالبانو تحریک کېنولو کې د پاکستان د رول غوښتنه شوې وه، دغه خبر د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر پر درېیمه د روسیې سپوټنیک خبري چینل ورکړ. عمران خان دوې ورځې وروسته د افغانستان لپاره د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره ناسته وکړه او د افغانستان په تړاو یې د امریکا په پلان کې د پاکستان د مرستې ډاډ ورکړ!

۲- د پاکستان پخواني دفاع وزیر خواجه اصف د پاکستان د واکمنانو خیانت په ډاګه کړ، په داسې حال کې چې نوموړی هم د دغو خاینانو له ډلې و. خواجه اصف د ۲۰۱۸ کال د جنورۍ پر درېیمه په یو لړ ټویټونو کې ولیکل: «ستاسو په غوښتنه موږ هر څه وکړل! یو دیکتاتور په یوه ټلیفوني اړیکه تسلیم شو، زموږ له هېواد څخه د وینو حمام جوړ شو، تاسو زموږ له اډو

څخه پر افغانستان ۵۷۸۰۰ بریدونه وکړل، زموږ له خاورې څخه ستاسو ځواکونو ته وسلې او مهمات چمتو کېدل، زموږ زرګونه ملکي وګړي او سرتېري د هغې جګړې قرباني شول چې تاسو پیل کړې وه... موږ ستاسې دښمن خپل دښمن وګاڼه، موږ د ګوانتانامو زندان ستاسې په غوښتنه ډک کړ، موږ په دومره لیوالیتا ستاسو خدمت وکړ چې خپل هېواد مو د ګازو د کمښت له بحران سره مخ کړ. موږ هڅه وکړه چې د خپل اقتصاد په بیه تاسو خوښ وساتو، موږ د بلک واټر امنیتي کمپنۍ لسګونه زرو کسانو ته ویزې ورکړې چې زموږ په هېواد کې تګ راتګ وکړي». په روښانه ټکو: پاکستان یوه داسې جګړه مخ ته بوتله چې خپله یې نه وه... پاکستان د مسلمانو ماشومانو وینې د امریکایي ګټو لپاره توی کړې او د امریکایي ګټو ساتلو لپاره یې اسلامي ارزښتونه تر پښو لاندې کړل...

۳- د هند په تړاو، لکه مخکې چې هم عمران خان ناکام شوی و، نوموړي له هند سره د کشمیر د الحاق په تړاو له څو شعارونو زمزمه کولو پرته بل هېڅ ونه کړل. موږ د ۲۰۱۹/۸/۸ نېټې پوښتنې په ځواب کې ویلي وو: «کله چې هند د کشمیر ځانګړی حالت لغوه اعلان کړ، د پاکستان دریځ نهیلی کوونکی و، له غندنې پرته یې بل هېڅ ونه کړل. د پاکستان بهرنیو چارو وزارت په بیان کې ویل شوی وو: .پاکستان نن ورځ (۲۰۱۹/۸/۵) په کلکه د نوي ډیلي اعلان غندي او ردوي یې. د هند د حکومت یواړخیز ګام دغې نانندرۍ ته د پای ټکی نه شي ایښودلی، لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا په پرېکړو کې دغه څه ځای پرځای شوي، پاکستان به د غېر قانوني ګامونو پر وړاندې له هرې شونې لارې کار واخلي. (فرانس پرېس خبري اژانس، ۲۰۱۹/۸/۵)... .یا په بل عبارت، څه ډول چې په فلسطین کې د عباس اداره او شاوخوا عرب هېوادونه د یهودو له لوري د فلسطین سپېڅلې خاورې د اشغال غندنه کوي او پر وړاندې یې یوازې اعتراضونه کوي، پرته له دې چې د جګړې لپاره پوځونه ولېږي؛ د پاکستان حکومت هم ورته کار وکړ!». (د نقل قول پای)

۴- عمران خان د پیسو له نړیوال صندوق سره معامله وکړه، په داسې حال کې چې د دې بنسټ بودجه د امریکا تر اغېز لاندې ده. عمران خان د هغه تګلارې پلې کړې، کله څه هم په خپل ټاکنیز کمپاین کې یې د پیسو له نړیوال صندوق سره پر معامله نیوکې کړې وې. عمران خان واک ته تر رسېدو مخکې د ۲۰۱۱ د سپټمبر پر اتلسمه له بریتانوي ورځپاڼې ګارډین سره په مرکه کې ویلي وو: «هغه هېواد چې په مرستو متکي وي، د هغه لپاره مرګ غوره دی. له پیاوړتیا دې راګرځوي، لکه څنګه چې استعمار دغه کار کړی دی. مرسته شرموونکې ده. تر هغه ځایه چې زه معلومات لرم، هر هېواد چې د پیسو نړیوال صندوق او نړیوال بانک پروګرامونه یې پلي کړي، بېوزلان یې لا بېوزله شوي او شتمن یې لا شتمن شوي دي، بس همدومره». واک ته له رسېدو سره سم نوموړی له خپلې ژمنې په واوښت! د پیسو له نړیوال صندوق سره یې جدي خبرې پیل کړې. د پیسو نړیوال صندوق د ۲۰۱۹ کال د جولای پر درېیمه هوکړه وکړه چې د پاکستان لپاره به ۶ مېلیارد ډالر پور د ۳۹ میاشتنۍ پروژې له مخې ورکول کېږي...

۵- په ۲۰۱۹/۷/۲۲ نېټه د دوشنبې پر ورځ د پاکستان لومړي وزیر عمران خان له فاکس نیوز سره په مرکه کې د امریکا لپاره خپل خدمتونه په دې ډول یاد کړل: « موږ په پاکستان کې تل د امریکا متحد پاتې شوي یو، که موږ ته د اسامه بن لادن په تړاو معلومات راکړل شوي وای، موږ باید هغه له سمڅې را ایستلی وای. خو د پاکستان څارګره اداره (ISI) وه چې د اسامه بن لادن د ځای په تړاو یې معلومات ورکړل. که تاسو د امریکا له مرکزي استخباراتي ادارې (CIA) څخه پوښتنه وکړئ، د پاکستان څارګره اداره (ISI) وه چې د ټلیفون له لارې یې د اسامه بن لادن ځای ځایکی کشف کړ». نوموړي دغه څرګندونې په سپینه ماڼۍ کې د

امریکا له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره د خپلې لومړۍ لیدنې پر مهال وکړې، په داسې حال کې چې له ټاکنو یوازې یو کال تېر شوی و. (القدس العربيه، ۲۰۱۹/۷/۲۳).

**دریېم: د پوځ له مشرتابه او ورپسې له امریکا سره د عمران خان د اړیکو ترینګلې کېدل:**

عمران خان د خپل درې کلن حاکمیت په موده کې د پوځ تر اغېز لاندې و او د پوځ تر شا امریکا ده. د دریېم کال په وروستیو کې، د پوځ له مشر باجوه سره د نوموړي اړیکې خرې پرې شوې، په داسې حال کې چې هغه په پرله پسې ډول د امریکا پر وړاندې د پوځ ننګه کوله. عمران خان د څارګرې ادارې (ISI) لپاره د پوځ له لوري وړاندیز شوی مشر رد کړ. تورن جنرال ندیم انجم د دې څوکۍ لپاره په پام کې نیول شوی و چې په پوځ کې یې ناخوښې رامنځته کړه... د المنار تلویزیون د ویبسایټ د ۲۰۲۱/۱۰/۲۷ نېټې په راپور کې راغلي: «انجم به د نومبر پر شلمه نېټه خپله نوې دنده پیل کړي. د اکتوبر پر شپږمه باجوه د فیض حمید پرځای انجم د څارګرې ادارې (ISI) د مشر په توګه وټاکه. انجم مخکې د بندري ښار کراچۍ د قول اردو قومندان و. باجوه روانه میاشت کې فیض حمید د پېښور قول اردو قومندان وټاکه». عمران خان په ډاګه له فیض حمید څخه د څارګرې ادارې (ISI) د مشر په توګه ملاتړ اعلان کړی و. له همدې امله د عمران خان حکومت او پوځ تر منځ د فیض حمید پر ځای د انجم ټاکنې نانډرۍ راپورته کړې. په ځانګړي ډول ډېرې ګنګوسې وې چې عمران خان به د قمر جاوید باجوه پرځای فیض حمید وټاکي، هغه څوک چې د واک دوهمه دوره یې د ۲۰۲۲ کال په نومبر کې پای ته رسېږي.

البته، امریکا د پوځ د مشر تر شا ولاړه ده. څکه نو داسې پرېکړه شوې وه چې د عمران خان د ګوښه کولو لپاره فضا جوړه کړي او د هغه ځایناستی هم وټاکي. عمران خان په دې تړاو یو څه معلومات ترلاسه کړي وو. له همدې امله یې هڅه کوله چې له پوځ سره خپلې ترینګلې اړیکې ورغوي. نوموړي موافقه وکړه چې د خپل ملګري فیض حمید پرځای دې انجم وټاکي. خو د پوځ مشرتابه د امریکا په اشاره له لومړي وزارت څخه د عمران خان د ګوښه کولو او د هغه پرځای د یو بل چا پر ټاکلو ټینګار کاوه! د امریکا له ملاتړه برخمن پوځ او امریکا وېره لرله چې د پوځ له پرېکړې څخه سرغړونه به د پوځ پرېکړو ته زیان ورسوي. له همدې امله د عمران پر ګوښه کېدو باندې ټینګار دوام درلود...

**څلورم:** عمران خان څکه په غوسه و چې د امریکا لپاره یې ستر خدمتونه کړي وو، لکه مخکې چې مو ترې یادونه وکړه. په ورته وخت کې نوموړي د پوځي مشرتابه اطاعت هم کاوه... داسې چې ګواکې نوموړي هېڅ فکر نه کاوه چې امریکا ته تر ډېرو خدمتونو وروسته به هغه منزوي کړي. خو نوموړي هېر کړي وو، یا یې هېر شوي وو چې کفري هېوادونه خپلو مزدورانو ته د تنفس فرصت هم نه ورکوي! په هر صورت هغه په دې تړاو غوسه و او د امریکا په تړاو یې بیانونه ورکول، خو وخت ترې تېر و! د نوموړي له بیانونو څخه ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- ایرو نیوز عربي په ۲۰۲۲/۲/۴ نېټه راپور ورکړ چې: «د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د شنبې پر ورځ یو شمېر بهرنیو ژورنالیستانو ته وویل: «هغه اقدام چې غواړي ما لرې کړي، د امریکا لخوا زموږ په کورني سیاست کې یوه شرموونکې لاسوهنه ده». عرب پوسټ په ۲۰۲۲/۴/۳ نېټه وویل: «ځایي رسنیو خبر ورکړی چې خان په واشنګټن کې د پاکستان له سفیر څخه پیغام ترلاسه کړی، چې یو جګپوړي امریکایي چارواکي. چې ویل کېږي د جنوبي او مرکزي اسیا لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ډونالډ لیو دی. په یو غبرېز پیغام کې ویلي، که عمران ګوښه شي له پاکستان سره به د امریکا اړیکې ښې شي».

۲- پر اوکراین د روسیې د برید په تړاو د واشنګټن او عمران خان د دریځونو ترمنځ توپیر و، عمران خان د برید له غندلو ډډه وکړه، له مسکوه یې لیدنه وکړه او د روسیې د ولسمشر ترڅنګ راښکاره شو. عمران خان په ۲۰۲۲/۲/۲۴ نېټه له ولادیمیر پوتین سره پر اوکراین د روسیې د برید پر لومړۍ ورځ ولیدل شو. په داسې حال کې چې د پاکستاني پوځ مشر قمر باجوه په ډاګه برید وغانده. د الحره د ۲۰۲۲/۴/۲ نېټې راپور له مخې، د پاکستاني پوځ مشر پر اوکراین باندې د روسیې پر برید نیوکه وکړه او د سملاسي بندېدو غوښتنه یې وکړه او دا یې یوه «لویه غمیزه» وګڼله چې یو کوچنی هېواد اغېزمنوي. د یادونې وړ ده چې د جنرال قمر جاوید باجوه غندنه د لومړي وزیر عمران خان له دریځ سره په ټکر کې وه. عمران خان د هغه څه په اړه چې په اوکراین کې پېښېږي، د اسلام اباد له بې پرېتوب څخه ننګه وکړه. هغه همدارنګه د روسیې د ولسمشر ولادیمیر پوتین پر کړنو له نیوکې ډډه وکړه».

۳- یوه بله بېلګه چې نیو عرب یې پر ۲۰۲۲/۳/۷ نېټه راپور ورکړ، دا ده چې: «عمران خان وویل چې د اروپايي اتحادیې سفیرانو له ده څخه په یو لیک کې غوښتنه کړې وه چې په اوکراین د روسیې پوځي عملیات وغندي... عمران خان وویل: زه د اروپايي هېوادونو له سفیرانو پوښتم: ایا تاسو هند ته هم ورته لیک لیکلی دی؟ هغه زیاته کړه: تاسو زموږ په اړه څه فکر کوئ؟ ایا موږ ستاسو مزدوران یو... هر څه چې تاسو یې وایئ، موږ به یې کوو؟ پاکستاني مشر زیاته کړه: « کله چې هند په کشمیر کې له نړیوالو قوانینو او د ملګرو ملتونو امنیت شورا له پرېکړو څخه سرغړونه وکړه، ایا د اروپايي هېوادونو کوم سفیر پر هند نیوکه وکړه؟ ایا تاسو له هند سره اړیکې پرې کړې، یا مو سوداګري ورسره وځنډوله؟».

**پنځم:** لکه وړاندې چې مو وویل، عمران خان هېڅ تمه نه لرله چې پوځ ته د دومره خدمت سربېره به پوځ . چې تر شا یې امریکا وه .نوموړي ته زیان ورسوي! دا داسې ده، لکه څوک چې د استعمارګرو کافرانو په ملاتړ واک ته رسېږي او هغه پر دې نه پوهېږي، چې هغه د دوی مزدور دی او د هغوی لپاره د سترنج د دانې حیثیت لري. هغوی ورته د خپلې خوښې سره سم حرکت ورکوي او کله چې د هغوی ګټې نه خوندي کوي، نو ګوښه کوي یې. عمران له همدغه برخلیک سره مخ شو! پر ۲۰۲۲/۴/۷ نېټه د قامي اسمبلۍ مرستیال ویاند د عمران خان د حکومت پر ضد د مخالف خوځښت د بې باورۍ تحریک پرېکړه رد کړه. همدارنګه د لومړي وزیر عمران خان په وړاندیز، ولسمشر پر ۲۰۲۲/۴/۳ نېټه پرېکړه وکړه چې پارلمان دې منحل شي او له وخته مخکې ټاکنې دې ترسره شي. محکمې حکم وکړ چې دغه اقدام د اساسي قانون خلاف دی، څکه نو بې اعتباره دی او دغه حکم یې لغوه کړ. سترې محکمې د پارلمان له ویاند څخه غوښتنه وکړه چې پر ۲۰۲۲/۴/۱۰ نېټه دې پارلمان خپله جلسه وکړي، په دغه جلسه کې له ۳۴۲ تنو څخه ۱۷۲ تنو د عمران خان پر ضد د بې باورۍ رایه وکاروله... په دغو ټولو پېښو کې د پردې تر شا د پوځ لاس و. مشرانو قاضیانو به د پوځ د مشر له بشپړ ملاتړ پرته هېڅکله داسې پرېکړه نه وای کړې...

**شپږم:** یوه ورځ وروسته، یعنې پر ۲۰۲۲/۴/۱۱ نېټه، پارلمان شهباز شریف د ۲۰۲۳ کال د اګسټ تر عمومي ټاکنو پورې لومړی وزیر وټاکه. شهبار شریف د پاکستان د پخواني لومړي وزیر نواز شریف کشر ورور دی. نوموړی له ۲۰۱۸ کال راهیسې په قامي اسمبلۍ کې د اپوزیسیون مشر دی. شهباز شریف د خپل ورور تر ګوښه کېدو وروسته د پاکستان مسلم لیګ (ن) ګوند مشري پر غاړه واخیسته. نوموړي پوځ او امریکا ته د خپل اطاعت ژمنه ورکړې ده... څکه نو پوځ په ټاکنو کې د هغه ملاتړ وکړ چې د عمران خان ځایناستی شي او هغه په لاندې ډول ده:

۱- شهباز شریف خپله دوره د امریکا له غوښتنې سره سم پیل کړه... د هند پر وړاندې یې ژبه سولهییزه وه، نوموړي وویل چې د نااندریو پرځای خبرو اترو ته چمتو دی. سکای نیوزعربي پر ۲۰۲۲/۴/۱۴ نېټه راپور ورکړ چې، شهباز شریف په خپله لومړۍ

وینا کې وویل: «موږ له هند سره ښې اړیکې غواړو، خو تلپاتې سوله تر هغه نه شي راتلای چې د کشمیر موضوع نه وي حل شوې» نوموړي د هند پر لومړي وزیر غبږ وکړ چې د کشمیر موضوع له حل سره دې هوکړه وکړي او د دواړو هېوادو د ښېرازۍ لپاره دې هوډ څرګند کړي. د هند لومړي وزیر د ټویټ له لارې ځواب ورکړ چې: « ښاغلي میا شهباز شریف ته دې د لومړي وزیر په توګه ټاکل کېده مبارک وي. د دې لپاره چې د پرمختګ پر ننګونو تمرکز وکړو او زموږ د خلکو ښېرازي او سوکالي ډاډمنه کړو، هند په سیمه کې د سولې، ټیکاو او له ترهګرۍ څخه د پاکې سیمې غوښتوونکی دی». د یادولو ده چې د هند لومړی وزیر د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې متنفر شخص دی. مودي په هند کې خپل هندو پلویان د مسلمانانو پر ضد پاروي. د نوموړي پلویان مسلمانان ځوروي او په هند کې د مسلمانانو له اوسېدو سره مخالف دي. هغوی په ښوونځیو کې د اسلامي حجاب له امله مسلماني نجونې ځوروي.

۲- د راپورونو له مخې، که شهباز شریف وټاکل شي، هغه له جنرالانو سره د کار ژمنه کړې. نوموړي څرګنده کړه چې هېواد بې پرمختګ او له پوځ سره پر توپېرونو برلاسي کېدو ته اړتیا لري. نوموړي مخکې ځکه پر پوځ نیوکه کړې وه چې پوځ په ۱۹۹۹ کال کې د ده پر مشر ورور پخواني لومړي وزیر نواز شریف باندې کودتا کړې وه. شهباز شریف د ۲۰۱۸ کال په ټاکنو کې سیالي وکړه، خو عمران خان ته یې وبایلله. د ۲۰۱۹ کال په ډیسمبر کې، د ملي محاسبې دفتر د شهباز شریف او د هغه د زوی ۲۳ جایدادونه د پېسو پرېمنځولو په تور کنګل کړل. د ۲۰۲۰ کال په سپټمبر کې، شهباز شریف د پیسو پرېمنځلو کې د ښکېلتیا په تور بندي شو، خو د ۲۰۲۱ په اپریل کې په ضمانت خوشي شو. نو د پوځ سره د نوموړي مصلحت یو له هغو لاملونو و چې هغه یې واک ته ورساوه.

۳- امریکا په ډېرې چټکۍ شهباز شریف ته مبارکي وویله. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن وویل: «د امریکا متحده ایالات د پاکستان نوي لومړي وزیر شهباز شریف ته مبارکي وایي او موږ له پاکستاني حکومت سره اوږدمهاله همکارۍ ته هیلمن یو». (سکای نیوز، ۲۰۲۲/۱۴/۴نېټه). له دې ښکاري چې شهباز له پوځ سره مصلحت او همدارنګه د امریکایي تګلارې پلي کول منلي دي. امریکا واک ته د شهباز په رسولو کې مرسته وکړه، که څه هم په تېر کې یې واک ته د شهباز او د هغه د ورور نواز د رسېدو مخنیوی کړی و. اوس امریکا ځکه هوکړه وکړه چې شهباز په بشپړ ډول له امریکا سره کار کولو ته چمتوالی ښودلی، په دې توګه چې نوموړي له هغه پوځ سره مصلحت وکړ چې امریکا ته وفادار دی!

۴- په ۲۰۲۲/۴/۱۲ نېټه امریکا غبږ راپور ورکړ چې: «د پاکستان نوي حکومت د سې شنبې پر ورځ وویل چې هغه به د سیمه‌ییزې سولې، ټیکاو او پرمختګ ګډو موخو ته د رسېدو لپاره د امریکا له متحده ایالاتونو سره په اغېزناک او مثبت ډول کار وکړي... موږ د امریکا او پاکستان د اوږد مهاله اړیکو بیا پیلولو تود هرکلی کوو». د شهباز شریف دفتر دغه څرګندونې د سپینې مانۍ د ویاندې جن ساکي د خبرو په غبرګون کې وکړې. جن ساکي د دوشنبې پر ورځ د واشینګټن او اسلام اباد د اړیکو پر اهمیت ټینګار وکړ او ویې ویل: «هر څوک چې په واک کې وي دا واقعیت نه بدلېږي چې موږ د قانون د حاکمیت او مساواتو پر بنسټ ولاړ عدالت پلویتوب کوو او له پاکستان سره د خپلې اوږدمهاله همکارۍ درناوی کوو». نوموړي زیاته کړه: « د بایډن اداره د ډیموکراتیک اساسي قانون او سوله‌ییزو اصولو ملاتړ کوي او په پاکستان کې هېڅ سیاسي ګوند ته پر بل ترجېح نه ورکوي». هغې زیاته کړه: «موږ له پاکستان سره خپلو اوږد مهاله اړیکو ته ارزښت ورکوو، یو سوکاله او ولسواک پاکستان د امریکا په ګټه دی». دغه راز یې وویل: «په اسلام اباد کې به له نویو مشرانو سره اوږدو، پیاوړو او باثباته اړیکو ته دوام ورکوو».

له دې څخه په ډاګه کېږي چې امریکا د خپل پخواني لاسپوڅي عمران خان په ګوښه کولو او واک ته د شهباز شریف په رسولو کې . چې په ډاګه یې له امریکا سره تر عمران خان د جدي کار کولو تابیا نیولې .د پردې تر شا لاس درلود!

**اووم:** دغه مزدوران نه له تېرو څخه زده‌کړه کوي او نه توجیه لري. کله چې امریکا له دوی څخه یو ګوښه کړي، بل یې د امریکا لمن ته ځان غورځوي او واک ته د رسېدو لپاره چوپړ ورته کوي. دوی ایډیولوژیک مشران نه دي، یوازې د څوکیو وږي دي. شهباز شریف له تېر څخه درس وانخیست، چې امریکا د نوموړي ورور تر یوه ځل زیات له واکه ایسته کړ او دواړه یې په جلاوطنۍ مجازات کړل. امت مخلصو ایډیولوژیکو مشرانو ته اړتیا لري، چې ایډیولوژي یې اسلام وي. اسلام له ټولو موضوعاتو سره سم او مناسب چلن کوي، سیاستوال یې یوازې د امت ساتنه کوي، هغوی زیرک وي او له امت څخه ابرځواک جوړوي، نه هغه هېواد چې دامریکا مزدور وي.

له شک پرته، د الله سبحانه وتعالی په اراده پاکستان د دې وړتیا لري چې د ستر دولت «دوهم راشده خلافت» د پیل ټکی شي.

﴿ **إِنَّ فِي هَذَا لَبَلَاغاً لِقَوْمٍ عَابِدِينَ**﴾ [الأنبیاء: ١٠٦]

*ژباړه: بېشکه په دې (بیان) کې د عبادت کوونکو خلکو لپاره پیغام پروت دی.*

**٥ شوال ١۴۴٣ هـ.ق**

**٥ مې ٢٠٢٢ م**